محمد نقیب تره خیل ۲۰۱۱/۱۲/۱۵

# د پښتنو غونډې ورور يې وه واژه ځان يې وژغوره

د ژوو په هکله ډک شوی مستند فلم د کاناډا شمالي سيمه ښووه.طبيعت دځمکې مخ پر يوزنګون  واورې پوښلې وه.له وجې يې د ځارويو رزق  ستر او د ځناورو روزې په  ډاګه شوې وه.
د شنه اسمان لاندې د لمر د زرينو وړانګو په ځلا کې د ځمکې پر سپين مخ يوه ډله  توربخون ببر په غوښو پټ صحرائي غواوې (غژګاو) چې په استوارو ګامو او دمه وړي خوځښت يې د واوورينې بديا سکوت د لوړي په وجه مات کړی وه د ګياوو لټون پسې سرونه ښکته اچولي او د وچو ډنډرو په ليدو به يې ژبه ويسته،لېکن خوله به يی له واورو ډکه شوه.
فطرت به دوي د يووازې ځروبدنې پرځای پرډله ايزې هغې پدې وجه قانع کړي وې چې د خطر وخت کې به يوه د بل مرسته شي.که په ګډ ځر کې خواړه لږ مومي، سرونه خو به نه بايلي.
دهمجنسو مخلوقاتو ترمنځ د وحدت او يو موټي والې ژمنې او تړونونه هاغه وخت بريالي خېژي چې يووالې يې د تکتکيک نه بلکې دهدف په موخه وي.
ځارويو د ساعتو نو واټن په مزل سره هوارې،ځوړې،غرونه رغونه تر شاه پرېښوول، لېکن مخه يې همغه شان دسترګو دځار پورې تکه سپينه وه.ځينې وخت به ستړيا دمرا ستې  ته اړاېستل، په ولاړي به پنډ شوه  او يو ځوبه يې غاړې سره وسولولې.د لنډې دمې وروسته به بيا په زنګېدلې حالت وخوځېدل.په وروستي ځل چې دمه شول د سړو لامله يی د بدن وېښبان داغزيوغوندې نيغ شوي وه، د بې شومېتوب په سبب يې غوړ.ونه ځوړ او د سترګو پشتونه ژړ سره ورغلل تابه وې چې په ولاړي خوب وړي. ښايې  دهغوی ذهن به د دوو بېرحمه ځړی غليمانو (لوړه ،ساړه) په چار کې ډوب وه.
لا قدمونه يې اوچت کړي نه وه چې يو ناڅاپه  يې د لېوانو په غپاوو زړونو په درزا، غوړ.ونه ځک سترګې خلاصې او وربوزونه يی همغې لوريته کاړه شول. د ګردلې وړې اوعذاب وژنکي لېوان لکه شمال غونډې په يوه شېبه کې په غپېدو وروړسېدل.اود روزل شوو پوځيانو په شان يې د منځ او مسافې په پام کې نيولو سره د بې آزارو،معصومو او دځو ورځو د نهارو ځارويو ،نه چارپير شول. په پيل کې غويان د جګړه ايز حالت له حکم سره سم داسې دائره وې ښه ونيوله چې شاه ګانې يې د دائرې په مرکز او سرونه يې په قطر کې لېوانو ته مخامخ شول.ځناورو په اوږ.دو داړو او دخولې په بوينو تېونو اوغپاوو د محاصرې کړی تنګه وله،په مقابل کې غويانو د مخکنيو پښو په آړم کولو او د ښکرو په اچولو به يې هغوي په ځټ کول.
 د ژغورنې ګډ دريز،د پېښې په آړه سهې غبرګون اوعملي اقدام څخه يې ما وانګېرله چې غواوې به له صوبې روغې رمتې ووځي.
 د مرګ کومې ته لوېدلو ځارويو نه د ژوند غوښتنه همدا شان کېده. که لېوان د ستومانی، بې وسی،تېپي کېدو او يا د کوم بل لامل له وجي وتښتي،نو زيان به يې داوي چې نس يې ډک نشوای کړای،لاړ به شي د کوم بل معصوم حيوان په غوښو به ځان موړ کړي. ليکن دوی ته تېښته عيناً مرګ ده.
د دواړو ترمنځ دحملې او دفاع ځورونکي حالت اوږد شو.د ډېر ښکراچولو نه غواوې بې خوند ښکارېدې،دېټه ورته په يونفس دغپېدو او داړو پيخېدو له لامله د لېوانو له خولو ځږ ونه سر وه، ان ځينې خو يې له ډلې وتي او لکی يې پرخمکې ورپسې ځښېدې.وضعې ګواهې کوله که لږ شېبه نور ځاوري لکی نيغې اوککړې وښوروي نو غليمان به يې شرمېدلې په شا سي.خو دا ګواهې لوړ اوغټ غوايی په بې موجبه تېښتې دروغ کړ ه.
د سر غوايې پسې نورو هم هه کړل.د هغوی په ډارنو منډو لېوان زړه ور شول ميدان پرې اېښو هغو هم مخ ورواړه وه، څه يې د پاتو جنګېدونکو غويو باندې ودانګل او څه يی په تېښتدلو پسې شول.له يوې شېبې منډې روسته يوځخوندر له ځغاستې ولوېده پنځه شپږ لېوانو پرې اندوخرجوړ کړ.ځټ ستونې اوخيټه يې په ولاړي شړانګې شړانګې شوه. ترځنګ يې بل په ځان باندې غويی دبلې ډلکی دحملې لاندې راغی خوهغه په خېژکو او هرلورته د ښکرو په غورځولو د ځان کلکه دفاع کوله.د شاته پاتې ايثار شووغويانو نه يو بل هم دجګړې،نه تېښته مېړانه وګڼله.د يووازني جنګېدونکي ملګري ځنګ ته چې ورسېد له وېرې يی لېوان په شا شول،خو دې نسب دښمنه د يوقدم لنډي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لارې په سبب يې په ټول قوت خپل ملګرى په ښکرو کې اوچت دمنډ په خواه کې وويشته او ځان يې وېسته. ترهغه چې دې بل د اوچتېدو په هېله پېښې راغونډه ولې لېوان پرې توى شوه په ډډه او خېټه يې وربوزونه ورننوېستل.

له ځان سره مې وويل ډارنه کوم لېوه دې که په همدې ګـذار په ښکروکې اوچت کړي وه له درده به دلېوه قولکو بېديا لړزه ولې وه او موجود لېوانو به له وېرې په هواکې ځغستل. ممکن چې دايى نسلي ډار او دغويانو ابدي زړه ورتيا ګرځېدلې وه،نن خو مو د خپلو ملګرو د ژوند په بيه ځانونه وژغورل ضرور به سبا د تاسو ورته انجام وي.

په فلم کې دغويانو کوچېدنه، ګډ يون ،د حملې په وخت کې د ټولو سم لاسي غبرګون،د پېښې په وخت کې د ورور په مړي ختنه،دپښتنو له اوسنۍ غميزې سره ېوازنې توپير يې پدې کې لره چې غويان د واورې وربښت پسې اخستي وي خو پښتانه د بمونواورېهاوو . د ۱۳۵۸کال د بى بى سي په تلويزوني راپورتاژ کې چې دهغه وخت د ماشومې شربت ګلې کورنې له نور پښتنو سره يو ځاې کور او کلي په سوړ ژمې کې د بم اورى له وجې پرېږدي او په ګډ کاروان کې په واورو پوښل شووغرو رغو پېښور ته تښتې. کاروان يى د لارې په اوږدو کې دوه،درې پلاه د رژيم او ېرغلګر شوروي پوځ د الوتکو د ښکار نښه ګرځي چې لامله يې څه کسان ټپيان او څه وژل کېږي.پاتې ژوندي په ډېر کړاوونه سره چې لوږې او سړو يې زور او قوت زبېښلې،خو د الوتکو وېرې ستوماني او لوږه پرې هېرې کړې وې.دسر بچتولو په تمه د پېښور په لور پېښې سپکوى.

شلېدلي کاروان د اونېو له مزله روسته لالهنده يو په بل پسې دکچه ګړى پنډ غالي ته رسيږي. دمرګ له کومي راتښتېدلي هلته بيا يو د بل په لېدو خوشاليږي او د همزله کسانو په اړه پوښتې.له مرګه يو چانس راوړي وايۍ موږ خو د کاروان په سر کې ؤ په لومړى بم اورى کې مو د ۳تنو د جنازو غوښې په لاسو راټولې کړې او ۶تنه ټپان چې د تګ نه وه په هغه لوى کلي کې يو داکتر پيداشو پر زخمو يې پټۍ ورولږولي او هلته پاتې شول رېښتيا پرون مې زرين اکا وليد ويلۍ چې درې کلن ماشوم زوى او بډا پلار مې د يخنۍ لامله په لاره کې خاوروته وسپارل. تاسي خو په خېر راورسېدى؟ نه چېرې! دلته نژدې کې پرموږ. ستره ټکه راولوېده،اخري کوتل ته بيخي رسېدلي ؤ چې په هوا کې د طيارو غر شو ترهغه کمره ته پنا کېدو بمونه يې واچول يو مې ځوان زوى ،دوه وربرونه، او بډى ګاوندى مو په کې شهيدان شول.

له همغه کال راهيسې د سرکارلخوا د پښتنو پر سمېو بم اورى لکه د پسرلي موسمي وربښت ګرځېدلې.نو ځکه د تېښتې د کاروانو لړى د نيل د سيند په شان اوږده شوه.

د مزل په پړاو کې دغويانو ترمينځ بېلېدنه او خپل وژنه هاغه ګړي وشوه چې مرګ يې ښو ته ورسېد. خو پښتانه په پېښور کې له احتمالي مرګ نه بچ وه،د اعلى او اشرافي ژوند د موندو په سر تيت او يو دبل د وينو سوداګر شول.

پښتونولي،ورورولي،د لارې ملګري دمنډي متاع شوه.مرګ ليدلي به پر ځان خبر نه وه چې څو پلا او څو ځايه پلورل شوى.هرچالاکه اومکار کس به د وږو.تږو او بې سرپناه قوميانو لست ليکه په زړه سپين پښتانه به يې پدې تېراېستل چې موږ تاستو ته له خېره موسسو خوراکي توکي راباسو.ځانو نه به يى ځارګرو شبکو ته قوماندانان او هغوى به يې خپل مهاجرين او مجاهدين وښوول مرستې به يې وېستې له ګاوه يو غدود به يې پري وويشه نور به يې په بازاکې وپلورلې ځانو ته به يې د زينتي او هوسي څيزونو نغده پرې برابره کړه.

اوس د ثروت او قدرت هوسيان دومره لېونې شوي چې انساني حرمت اسلا مي کرامت او د پښتونولي وحدت د ژوند اسباب ګڼي. که څوک د دوى دګټو او خوند سبب شي نو اعلى انسانو مومن مسلمان او مېړني پښتون دى، که نو د غويانو په څېرېې غليم ته په ډګر کې ېوازې پرېږدي او په مړي يى ټوپ وهي، کورني او بهرهني قاتلانو ورشکاري هغوى يې هم پخپله وژني او هم يې پرسپيو داړي او دې ښې شېبو د تېرېدولپاره يې جنازې د هندوانو په شان سوځوي چې د لمدو غوښوجغهار ته يې په کړس کړس وخاندي .

پاى


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ